ډاکټر محمدآجان مرزی
۲۰۱۸/۰۹/۲۴

# پیغمبر

## درېمه او وروستۍ برخه

لیکوال: جبران خلیل جبران

ژباړن: ډاکټر محمدآجان مرزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**عبادت**
بیا یوې کشیشې ووېل: د عبادت په هکله راته ووایه.

تاسو د ګواښ او درد پر مهال عبادت کوئ. د خوښۍ او خوشحالۍ پر مهال هم عبادت وکړئ.
ځکه عبادت په ژوندې آسمان کې د ژوندون غوړول دي .

او که آسمان ته د ناخوالو شیندل تسکین درکوي نو دا به هم ستاسو خوښي وي
چې د خپل زړه د سپېدو نور هم ورسره یو ځای کړې.
او کله چې مو روح عبادت ته راغواړي او تاسو له ژړا بل څه نه کوئ نو پرېږدئ چې عبادت ته مو راوغواړي تر
څو په خندا شئ.

په عبادت کې لوړو پوړونو ته جګېږئ او هغه کسان ګورئ چې په عبادت ولاړ دي.
دا کسان یوازې د عبادت پر مهال ګورئ.
دې پټ معبد ته ستاسو سفر باید د وجد او ګرانښت لپاره وي.

که معبد ته د کومې بلې موخې لپاره ورشئ نو څه به ترلاسه نکړئ.
او که د ځان د ټیټولو لپاره ورشئ نو اوچت به نشئ.
که د بل چا په حق کې د دعا لپاره ورشئ نو دعا به مو ونه منل شي.
کافي ده چې له نظر پټ معبد ته ورننوځئ.

زه تاسو ته عابدت کول نشم در زده کولای.
خدای هغه وخت ستاسو خبرې اوري چې په خپله یې ستاسو په شونډو بیان کړي.

زه تاسو ته د سمندرونو، ځنګلونو او د غرونو عبادت نشم در زده کولای .
تاسو د غرونو، ځنګلونو او سمندرونو زامن، عبادت په خپلو زړونو کې موندلای شئ.

او که د شپې چوپتیا ته غوږ شئ نو اورئ به چې وواېي: « خدایه، ای د وجود لوړې معنی، ستا اراده زموږ اراده ده.
ته موږ ته اراده راکوې.
ستا اراده زموږ شپې چې ستا دي پر ورځو چې هغه هم ستا دي بدلوي.

موږ له تا څه نشو غوښتلای، ځکه ته زموږ پر اړتیاوو خبر یې، تا ته اړتیا لرو، او چې نعمت رابښې نو هر څه
راکوې.»

**لذت**
بیا یو زاهد چې هر کال ښار ته راتلو رامخته شو او وه یې ویل: د لذت په هکله راته ووایه.
او ده ځواب ورکړ:
لذت د آزادۍ یوه سندره ده، خو په خپله آزادي نه ده.
دا ستاسو د هیلو غوټۍ ده، خو میوه یې نه ده.
دا یوه ژوره ده چې لوړ پوړونه غواړي، خو په خپله نه ژوره او نه هم لوړه ده.

دا یو زنداني دی چې غواړي والوزي، خو ټوله فضا نه اشغالوي.
هو، ریښتینی لذت د آزادۍ سندره ده.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه غواړم چې دا سندره د زړه له کومي وغږوی؛ خو نه غواړم چې په سندرو کې خپل زړه له لاسه ورکړی.

ستاسو په ډله کې ځینې ځوانان لذت غواړي، ګنې چې لذت هر څه دي او تاسې هغوی ملامتوی.
زه به هغوی نه ملامت او نه هم محکوم کړم.
زه به پرېږدم چې هغوی لذت ولټوي.

ځکه چې لذت به ومومندي، خو نه یوازې لذت؛
لذت اوه خوېندې لري، چې له ټولو وړه یې له لذت څخه ښکلې ده.
تاسو د هغه انسان کیسه نده اورېدلې چې په ځمکه کې یې ریښې لټولې او کنځ یې پیدا کړو؟
د تاسو په ډله کې ځینې زاړه کسان د لذت ښېې په پښېمانۍ یادوي داسې لکه چې په نشه کې یې بد عمل ترسره کړی وي.

خو پښېماني د روح رنځول دي نه ادب ورکول.
له خپل لذت څخه د اوړي د درمند په توګه په شکر یادونه وکړی.
خو که پښېماني آرامي دربښې نو پرېږدی چې هوسا مو کړي.
په تاسو کې داسې کسان هم شته چې نه دومره ځوان دي چې لټه وکړي او نه هم دومره زاړه دي چې تېر وختونه رایاد کړي.

تاسو د لټولو او یادولو له وېرې له هر لذت څخه وېرېږی تر څو چې خپل روح هېر نکړی او یا ګنهګار نشی.
خو په پرهېزګارۍ کې هم لذت پروت دی.
په دې توګه تاسو هم ګنځ تر لاسه کوی سره له دې چې په لړزانو لاسونو ریښې لټوی.

خو راته وواياست، څوک کولای شي چې روح وځوروی؟
آیا بلبل به د شپې چوپتیا او اوربلکي به ستورې ناآرامه کړي؟ او آیا ستاسو لمبه او یا دود به باد ناآرامه کړي؟

سوچ کوی چې روح یو آرام ډنډ دی چې پر یوه لکړه به یې ناآرامه کړی؟
کله چې تاسو له لذت تېرېږی یوازې خپله غوښتنه د وجود تیارو ته وړی.
څوک پوهېږي چې د نن تمنا به د سبا په تمه نه وي؟

آن ستاسو بدن پر خپل میراث او خپلو روا اړتیاوو خبر دی.
ستاسو بدن ستاسو د روح دلربا ده،
دا تاسو پورې اړه لري چې پر دې دلربا خوږه موسیقي او یا بې خونده سازونه غږوی.

او اوس له خپل زړه څخه وپوښتی: « څرنګه کولای شو چې د ښه لذت او بد لذت تر منځ توپیر وکړو؟»

خپلو پټیو او باغونو ته ورشی. هلته به پوه شی چې د عسلو مچی د ګلانو د شهدو له ټولولو څخه لذت وړي،
خو ګل هم د عسلو مچی ته د شهدو له ورکولو خوند اخلي.
ځکه چې د عسلو مچی د ګل د ژوند چینه ده او ګل د عسلو د مچی لپاره د مینې ربار.
او دواړه د لذت له ورکولو او اخستلو خوند اخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د اورفالیز خلکو، له لذت څخه په خوند اخستنه کې د ګل او د عسلو د مچې په شان و اوسی.

**ښکلا**

او یوه شاعر ورنه وپوښتل: د ښکلا په هکله راته ووایه.
او ده ځواب ورکړ:
که ښکلا ستاسو لار او لارښوده نه وي نو چیرې به یې پیدا کړی؟ او که ښکلا ستاسو د کلام جوړونکي نه وي نو څنګه به د هغې په هکله وغږیږی؟
غمجن او ټپي وایي: « ښکلا مهربانه او پسته ده. او د یوې لږ شانته محجوبې مور په شان له موږ سره مل ده.»
او احساساتي کسان وایي؛ « نه، ښکلا یو له ځواکه ډک او وېروونکی موجود دی او د توپان په شان زموږ تر پښو لاندې ځمکه او پر سر آسمان خوروي.»
ستړي کسان وایي: « ښکلا زموږ په روح کې یو ملایم پوسپوسی دی او غږ یې زموږ په چوپتیا کې یوه کمزوري ډیوه ده چې د تیارو له ویرې لړزیږي.»
ناآرامه کسان وایي:« موږ د هغې غږ په غرونو کې اوریدلی، او له غږ سره یې د نعلونو غږونه، د وزرونو آوازونه او د زمریانو غورا راغلل.»
په شپه د ښار پیره داران وایي: « ښکلا به د سهار له سپیدو سره له لمرخاته سر راواوچت کړي.»
کارګران او راهیان په غرمه وایي: « موږ ولید چې ښکلا څرنګه خپل سر د سره لویدیز له کړکۍ ځمکې ته راټیټ کړ.»
د ژمي په واورو کې راګیر کسان وایي: « ښکلا به په پسرلي کې د غونډیو له شا په منډو راشي.»
په اوړي کې لوګر وایي: « موږ ښکلا د خزان له پاڼو سره په نڅا ولیده، په زلفو کې یې سپینه واوره پرته وه.»

تاسو د ښکلا په هکله دا ټولې خبرې کولې. خو په حقیقت کې مو د ښکلا په هکله خبرې نکولې،
بلکه د نیمګړو ارمانونو په هکله.
ښکلا کوم ارمان ندی، ښکلا جذبه ده.

ښکلا نه تږې شونډې دي او نه محتاج لاس. ښکلا یو له اوره ډک زړه، یو مجذوب روح دی.

ښکلا نه هغه انځور دی چې لیدل یې غواړی او نه هم ستاسو د خوښې سندره ده،
ښکلا یو انځور دی چې په پټو سترګو یې ګوری، یوه سندره چې په بندو غوږو یې اوری.

ښکلا نه د وني شیره ده او نه په منګولو کې راګیر وزر، ښکلا تل شین باغ دی او پر هوا روانې پرښتې.

د اورفالیز خلکو، ښکلا د ژوند مقدس او بربنډ مخ دی.
تاسو د ښکلا پر مخ پرده یاست.
ښکلا هغه ابدیت دی چې ځان په هنداره کې ګوري.
خو تاسو هم ابدیت یاست او هم هنداره.

**مذهب**

یوه زاړه کشیش ورته وویل:
د مذهب په هکله راته ووایه.
او ده ځواب ورکړ: آیا نوله ورځ د کوم بل څه په هکله غږیدلم؟ آیا هر عمل او هر نظر مذهب ندی؟
آیا مذهب په عین وخت کې نه عمل او نه تفکر بلکه یوه معجزه او یوه عجوبه نده چې

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تل له روح څخه سر چینه اخلي،
آن په داسي حال کې چي لاسونه ډېره ماتوي او یا د اوبدلو څرخ څرخوي؟

څوک کولای شي خپله عقیده له خپلو اعمالو او یا له خپلو کړو څخه جلا کړي؟
څوک خپل وخت په خپله ټاکلی او ویلای شي: « دا کار د خدای او دا کار زما لپاره دی؛
دا زما د روح او دا زما د بدن لپاره دی؟»
ستاسو د ژوند شېبې وزرونه دي چي په هوا کې له ځان څخه ځان ته الوزي.
نېک عمله چي خپل کردار د ښکلي لباس په شان اغوندي نو له هغه به ښه وي چي بربنډ وي.
لمر او باد به یې بدن ونه ځوروي.

او څوک چي خپل عمل پر اخلاقو تعریفوي، د خوږو سندرو مرغی په قفس کې بندوي.
له ټولو آزاده سندره د قفس له پنجرو څخه بهر وتلای نشي.

او د چا لپاره چي عبادت د یوه کړکي په شان دی چي بندېدلای او خلاصېدلای شي
لا د خپل روح کور ته ندی ورننوتلی چي کړکي یې له سپېدو تر سپېدو په پراخه توګه واز دي.

ورځنی ژوند مو هم معبد دی او هم مذهب.
کله چي ورننوځی نو هر څه چي لری له ځانه سره یې واخلی، خپله یوه او خپل سندان، خپله څپټۍ او خپل عود.
هغه شیان مو چي د اړتیا او مینې له امله خپل کړي دي.
ځکه چي په خپلو خیالونو کې نه له خپل توان لوړېدلای شی او نه هم له خپلې ناکامۍ ټیټېدلای.
او ټول انسانان درسره مل کړی:
ځکه چي په خپل عبادت کې له خپلو هیلو لوړ الوتلای او له خپلې ناامېدۍ زیات ټیټیدلای نشی.
که غواړی چي خدای وپېژنی نو دا باور مه لری چي یوه معما به حل کړی .
خپل شاوخوا ته نظر واچوی.
بیا به وګوری چي څرنګه هغه ستاسو له بچیانو سره لوبې کوي.
او آسمان ته نظر واچوی او وبه ګوری چي څرنګه پر وریځو روان، په تالندو خپل لاس اوږدوي او په باران کې ځمکې ته راکوزېږي.
تاسو به وګوری چي په ګلانو کې خاندي، له ګلانو راخېژي او له ونو اشاره درته کوي.

**مرګ**
بیا مېترا وویل: اوس غواړو د مرګ په هکله درنه وپوښتو.
او ده وویل: تاسو غواړی د مرګ پر اسرارو پوه شی.
که دا رازونه د ژوند په زړه کې ونه لټوی نو څنګه به یې پیدا کړی؟
بوم چي په ورځ ړوند په شپه بینا دی د رڼا راز نشي افشا کولای.
که غواړی چي د مرګ روح وګوری نو خپل زړونه د ژوند د بدن لپاره په پراخه توګه خلاص کړی.
ځکه چي مرګ او ژوند د سیند او سمندر په شان یو دي.

د آخرت په هکله علم ستاسو د امېدونو او هیلو په ژورو کې پروت دی.
ستاسو زړه د واورې لاندې تخم په شان د پسرلي خوبونه ګوري.
پر خپلو خوبونو باور ولری، ځکه د ابدیت په لور دروازه پکې پټه پرته ده .

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

له مرګ نه ستاسو وېره د شپانه لړزېدل دي، کله چې پاچا یې په عزت لاس پر مټ ږدي.
آیا شپون به په خپله لړزا کې خوښ نه وي چې د پاچا له خوا یې قدر  کېږي؟
آیا خپلې لړزا ته به یې پام نه وي؟
مرګ په باد کې د بربنډ ولاړېدو او په لمر کې له ویلي کېدو بل څه دي؟
که د سا بندول، د سا اېستنې د لوړو او ژورو له سیلابه خلاصېدل نه دي  نو څه دي،
تر څو آسمان ته اوچت شي، پراخ او بې له خنډه د خدای په لټه کې شي؟

تاسو به هغه وخت وکولای شي سندرې ووایاست چې د چوپتیا له دریابه  اوبه وڅښئ.
او د غره څوکې ته له رسېدو وروسته به پاس ختل پیل کړئ.
او کله چې ځمکه تاسو ځان ته راغواړي نو په رېښتیني توګه به نڅا وکړئ.

**وداع**
اوس نو ورځ ماښام شوه.
فاضلې مېترا ووېل: رحمت دې وي پر دې ورځ او پر دې ځای او ستا  پر روح، چې موږ ته یې خبرې وکړې.

او ده ځواب ورکړ: آیا زه خبرې کوونکی وم؟ آیا زه اورېدونکی هم نه وم؟
بیا د معبد له زینو راښکته شو او ټول ورپسې روان شول.
خپلې بېړۍ ته ورسېد او د بېړۍ په سر کې ودرېد.

بیا یې مخ خلکو ته کړ او و یې وېل: د اورفالېز خلکو، باد راته وایي  چې له تاسو رخصت واخلم.
زه د باد په شان تلوار نه لرم، خو باېد لاړ شم.

موږ لارویان تل د یوازېتوب لارې لټوو،
نوې ورځ په هغه ځای کې نه پیلوو چې وروستۍ ورځ مو پکې تېره  کړې وي،
او  هلته چې د لمر ډوبېدو یوازې پرېښودو، لمرخوت مو نه پیدا کوي.
آن که ځمکه ویده وي، موږ روان یو .
موږ د سرسخت نبات دانه یو او د زړه په بلاغت او ثمر ځان باد ته  سپارو او شیندل کېږو.
له تاسو سره زما ورځې لنډې وې، له هغو هم لنډې زما خبرې وې.
خو که زما غږ ستاسو له غوږو ورک شي او مینه مې ستاسو له یاده  ووځي
نو بیا به راشم او په ډک زړه او روانه ژبه به خبرې درسره وکړم.
هو، زه به بیا راشم، د اوبو له راختو سره،
او که مرګ مې وجود له منځه وېسي او په چوپتیا کې ډوب شم، بیا به ستاسو د ادراکو په لټه راشم.

او زما لټه به بې ګټې نه وي.
که زما خبرې رېښتیا وي نو ستاسو په فصیح غږ او کلماتو کې به راښکاره شي چې ستاسو له فکرونو سره نږدې
اړیکې لري.

د اورفالېز خلکو! زه له باد سره ځم، خو په خلوت کې نه ډوبېږم.
که دا ورځ ستاسو د اړتیاوو او زما د مینې د پوره کېدو ورځ نه وي، نو پرېږدی چې د یوې بلې ورځې وعده وي.
د انسان اړتیاوې بدلېږي، مینه یې نه بدلېږي، د ده د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هیله نه بدلېږي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

نو پوه شی چي زه به له لوېي چوپتیا ببرته راستون شم.

هغه غبار به، چي د سهار په سپېدو کي ورکېږي او پر پټیو له شبنم بل څه نه پرېږدي، آسمان ته پورته شي،
پر ورېځو به بدل شي، باران به شي او وبه اوري.
زه په خپله غبار وم.
د شپو په چوپتیا کي ستاسو په کوڅو کي ګرځېدم، روح مي ستاسو کورونو ته درتلله، ستاسو د
زړه ټکان زما په زړه کي و،
ستاسو سا مي پر مخ احساسوله او تاسو ټول مي پېژندلی.

هو، زه ستاسو په خوښی او غم خبر وم،
او په خوب کي ستاسو خوبونه زما خوبونه وو.
زه ستاسو په منځ کي د غرونو تر منځ جهيل وم.
ما ستاسو څوکو ته انعکاس ورکولو، ستاسو د غرو لمنو ته او ستاسو د تفکر او هيلو روانو کاروانونو ته.
بيا ستاسو د ماشومانو د خندا ويالي او د ځلميانو د حسرت سيندونه زما د چوپتيا مېلمه شول.

او کله چي زما د وجود ژورو ته راننوتل نو ويالو او سيندونو سندرې بس نکړې.
له خندا خوږ او له حسرت لوی شی ماته راغی.
ستاسو وسعت او عظمت،
هغه لوی انسان چي تاسو د هغه په پرتله له حجراتو او غړو بل څه نه ياست.

هغه څوک چي په ترانو کي يې ستاسو سندرې له يوه بې غږه درب بل څه نه دي.
تاسو د دې عظيم انسان په وجود کي لوی ياست او عظمت لری.
تاسو چي هغه ته کتل ما تاسو ته کتل او مينه مي درسره لرله.

مينه تر کوم واټن رسېدلای شي چي له دې پراخي فضا څخه هم تېره شي؟
کوم خيال، کومه هيله او کوم تصور کولای شي چي له ميني څخه لوړ پرواز وکړي؟
په تاسو کي دا لوی انسان د څېرې د کلکي وني په شان، د منو له غوټيو ډکي وني په شان دی.

د هغه قوت تاسو له ځمکي سره تړي، عطر يې تاسو هوا ته الوزوي او د هغه په ابديت کي تاسو ابدي ياست.
تاسو ته وېل شوي دي چي تاسو لکه يو زنځير د له ټولو کمزورې کړی په اندازه کمزوري ياست.
دا پوره حقيقت نه دی.
تاسو د خپلي له ټولو پياوړې کړی په اندازه قوت هم لری.

که تاسو د يوه ډېر کوچني عمل پر بنسټ و ارزوم نو دا به د څک د لطافت له مخي د سمندر ارزونه وي.
که تاسو د ناکاميو پر بنسټ و ارزوم نو دا به پر فصلونو د بې ثباتی پړه وي.
هو، تاسو د يوه سمندر په شان ياست.
سره له دې چي په ساحل کي پرتي بېړی د اوبو لوړېدو ته سترګي په لاره دي،
نه تاسو او نه هم سمندر کولای شي چي د اوبو کچه په چټکتيا لوړه کړي.
تاسو د فصلونو په شان ياست.
سره له دې چي په ژمي کي پسرلی نه منی،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

پسرلی ستاسو په وجود کې مسک او په نیم خوب حالت پروت دی او د هغه په هکله ستاسو د نظر له امله درنه خپه نه دی .
باور مه لری چې زه دا خبرې د دې لپاره درته کوم تر څو یوه او بل ته ووایاست: « ده زموږ صفت وکړ. ده زموږ په وجود کې له نېکیو بل څه ونه لیدل.»
زه هغه څه درته وایم چې ستاسو په افکارو کې پراته دي.
او د کلماتو علم د پټې او چپې پوهې له سیورې بل څه دي؟
ستاسو افکار او زما کلمات د یوه بند شوي یاد موجونه دي چې پر پرون مو خبروي
پر تېرو ورځو چې ځمکې نه موږ پېژندلو او نه خپل ځان او پر هغو شپو مو خبروي چې ځمکه ګېچه وه.
هوښیاران درته راغلل چې خپل حکمت درسره ګډ کړي.
زه راغلم چې ستاسو له حکمت برخمند شم.
ستاسو په وجود کې د روح اور بل دی، لېمې یې تل لوړېږي.
او تاسو د دې لمبو زیاتېدو ته پام نه کوی او د تېرو ورځو د ګناهانو په واویلا کې یاست.
هغه ژوند چې په وجود کې ژوند لټوی له قبره وېرېږي.
دلته قبرونه نشته.
دا غرونه او هوارې یوه زانګو ده، د سیند پر سر یو پل دی.

کله چې د خپلو نیکونو له قبرونو تېرېږی،
سم ورته وګوری، تاسو به ځان او خپل بچیان لاس په لاس په نڅا وګوری.
تاسو زیات وختونه بې له دې چې پوه شی ولې، خوشحاله یاست.

نور کسان هم درته راغلل.
او تاسو پر هغوی باور درلود
او دوی ته مو د لویو وعدو په بدل کې شتمنې، قوت او شهرت ورکړ. ما تاسو ته له یوې وعدې کم څه درکړل خو تاسو زما په وړاندې ډېر سخاوت درلود.
ماته مو زما د ژوند ژوره تنده راوبښله.
انسان ته له دې بله لویه تحفه نشته چې ټولې موخې یې پر تږو شونډو او ټول ژوند یې پر یوه څا بدلوي.
او په دې څا کې زما قدر او عزت پروت دی:
هر وخت چې دې څا ته د تندې د ماتولو لپاره راځم، ګورم چې ژوندی اوبه په خپله تږې دي.
زه دا اوبه او دا اوبه ما څښې.

ځینو سوچ کاوه چې زه د تحفو د منلو لپاره ډېر مغرور او بې جرأته یم.
زه په رېښتیا هم د مزد د ترلاسه کولو لپاره زیات مغرور یم، نه د تحفو د منلو لپاره.

سره له دې چې تاسو مېلمه کولم خو ما په غونډیو کې توت خوړل
او سره له دې چې تاسو په خوشحالی سرپناه راکوله زه به د معبد د ستنو تر منځ ویده کېدم،
نو آیا په عین وخت کې زما د شپو او ورځو په هکله ستاسو له مینې ډک تشویش نه و
چې خوراک یې زما په خوله کې خوږولو او زما خوب یې له خیالونو ډکولو؟
له ټولو زیات له دې امله د رحمت دعا درته کوم: تاسو ډېر سخي یاست او نه پوهېږی چې سخاوت لری.
نیکي چې خپل ځان په هنداره کې وګوري او مغروره شي پر ډبره بدلېږي

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او یو ښه عمل چي د ځان صفت کوي د لعنت مور ده.

ځینو سوچ کاوه چي څوک ځانته نږدي نه پرېږدم او د تنهایي په نشه پروت یم.
او دا مو هم ویل: « هغه له انسانانو سره نه بلکه د ځنګل له ونو سره سلامشورې کوي،
پر غونډیو یوازې ناست او زموږ ښار ته راګوري.»

هو، زه غونډیو ته وختم او لیرې ځایونو ته لاړم.
څنګه مي کولای شول چي تاسو وګورم، بې له دې چي لوړ ځای ته وخېژم او لیرې ځای ته لاړ شم؟
که لیرې نه وو نو څرنګه کولای شو نږدې و اوسو؟

او له تاسو ځینو نورو په چوپه خوله راته وېل: « ای پردېه، پر سختو او لوړو پوړونو مېنه،
ولي د غرو په لوړو کي، چېرې چي شهباز منځالي جوړوي، اوسېږې؟
کوم توپانونه په خپله منځاله کي راموې او په آسمان کي کومه افسانوي مرغی ښکاروې؟
راشه او زموږ په شان واوسه.
راښکته شه او خپله لوږه زموږ پر ډوډۍ او خپله تنده زموږ پر شرابو ماته کړه.»
دا یې ماته د خپل روح په تنهایي کي وېل،
خو که تنهایي یې لا نوره هم ژوره وای نو پوهېدلي به وو چي زه ستاسو د خوښۍ او غم له اسرارو بل څه نه لټوم.
زه ستاسو په لوړ وجود پسي راوتلی یم چي تر آسمانه اوچت دی.

خو ښکاري په خپله ښکار هم و؛
ځکه زیات غشي زما له لیندې والوتل تر څو زما خپله سینه په نښه کړي.
الوتونکی ډېر ورو خوځېدونکی هم و؛
کله چي زما وزرونه په لمر کي پراخ وو سیوره یې پر ځمکه د کشپ په شان ورو خوځېدله.
هم ما باور درلود او هم شک؛
ځکه ما زیات وختونه خپله ګوته په خپل زخم کي کېښودله تر څو پر تاسو باور مي زیات شي او له تاسو سره لا زیات آشنا شم.
زه له دې عقیدې او پوهي سره وایم،
چي تاسو په خپل بدن کي بندي نه یاست او نه هم له خپلو کورونو او پټیو سره تړلي یاست.
تاسو په حقیقت کي په غرونو کي اوسېږی او له بادونو سره الوزی.
دا کوم څه نه دي چي په لمر کي د ځان د ګرمولو لپاره خوځېږي او د ځان د امن لپاره په تیارو کي سوري جوړوي،
بلکه یو آزاد موجود دی، یو آزاد روح چي ځمکه یې په غېږ کي ده او په آسمانونو کي ګرځي.

که دا ګنګي خبرې وي نو زیار مه باسی چي تشریح یې کړی.
د هر شي پیل تیاره او چپه خوله وي نه پای.
هیله مند یم چي ما د یوه پیل په توګه په یاد ولری.
ژوند او تول هغه څه چي ژوندي دي، په غبار کي زېږېدلي دي، نه په بلور کي.
څوک پوهېږي چي غبار د منحلېدو په حال کي بلور ندی؟
له همدې امله غواړم چي زما دا خبره زما د یادولو پر مهال یاده کړی:

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

هغه څه چي ستاسو په وجود کي له ټولو کمزوری او کيچ ښکاري له ټولو پياوړی او له ټولو مصمم دی .
آيا ستاسو سا ستاسو هډوکي استوار او کلک کړي نه دی؟
آيا ستاسو ښار او هر څه چي پکي موجود دي يوه خيال ندي جوړ کړي، چي اوس له ستاسو ټولو هېر دی؟
که کولای مو شول چي د دي سا بهير وګوری نو د هر بل شي کتل به مو هېر کړی وای.
او که د خيال ټيټ آواز مو اورېدلای شوای بيا به مو بل هيڅ آهنګ نه اورېدو.
خو ښه خبره ده چي تاسو يي نه ګوری او نه يي اوری.
ستاسو پر سترګو پرته پرده به هغه څوک لېري کړي چي دا پرده يي اوبدلي ده.
او هغه خټه به چي ستاسو غوږونه يي بند کړي دي هغه ګوتي سوری کړي چي دا خټه يي اغږلي ده، بيا به هم د ليدو او هم د اورېدو وړتيا ترلاسه کړی،.بيا به ارمان نه کوی چي نه مو څه ليدل او نه هم کتل.
په دې ورځ به په هر شي کي پر پرتي معنی پوه شی.
بيا به د رڼا په شان تياره هم درته ګرانه وي.

له دې خبرو وروسته يي کښتي وان وليد چي د بېړی لاربنوده وسيله په لاس ولاړ دی،
اوچتو بادوانونو او لېري آفاقو ته ګوري.

زما د بېړی کپتان ډېر صابر دی.
باد لګېږي او بادوانونه ناآرامه دي.
د لارښودني وسيله غواړي وکارول شي،
خو زما د بېړی کپتان چپ ولاړ دی، تر څو زه خبري بس کړم.
او کښتي وانان هم چي د آزادا سمندر غبرګه سندره يي ځان ته راغواړي، ماته په صبر غوږ وو.

خو له دې زيات بايد راته تم نشي.
زه چمتو يم. د اوبو بهير او موجونه سمندر ته رارسېدلي دي.
او لويه مور بيا هم خپل زوی په غېږ کي نيسي.
د اورفاليز خلکو! د خدای په امان.

دا ورځ سر ته ورسېده.
ورځ خپلي دروازې زموږ پر مخ د نيلوفر د ګل په شان تر سبا سهار تړي.
موږ به نن ورځ رانصيب شوي شيان وساتو، او که بس نه وي نو يو ځل بيا به سره وګورو
او يو ځای به خپل لاسونه د پروردګار پر لور اوږده کړو.
مه هېروی چي زه به بيا تاسو ته راشم.

يوه شيبه وروسته به زما حسرت د يوه بل جسم لپاره غبار او خګ راغونډوي.
يوه لنډه شيبه، د باد پر وزرونو له يوې شېبي تمېدو وروسته به د يوې بلي ښځي په رحم کي پيدا شم.

خدای دې د تاسو او له تاسو سره د تېرې ځوانی مل شي.

همدا پرون و چي په خوب کي مو سره وليدل .
تاسو زما په خلوت کي سندرې ويلي او ما ستاسو له حسرتونو څخه آسمان ته يو برج جوړ کړ.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

خو اوس راوبښ شوي یو، نه مو خیال شته او نه هم د سهار سپېدې.
د غرمي لمر مو پر سر ولاړ دی، نیمه لار مو پر پوره ورځ بدله شوی ده،
اوس باېد سره بېل شو.

که د یادونو د ماښام په تیارو کې مو بیا سره ولېدل، بیا به خبرې سره وکړو،
تاسو به زما لپاره لا ژوره سندره وکړی.
او که لاسونه مو په یوه بل خوب کې سره یو شول، آسمان ته به یو بل برج جوړ کړو.

له دې خبرو وروسته یې کښتي وانو ته اشاره وکړه،
لنګر سمدلاسه راټول شو، بېړۍ له پړو خلاصه او د ختیځ پر لور روانه شوه.
د خلکو له سینو پر یوه غږ یوه چیغه راووتله،
د ماښام په تپارو کې اوچته شوه او د شیپور د غږ په شان پر سمندر راواوخته.

یوازې مېترا چپه وه او بېړۍ ته یې کتل تر څو د سمندر په غبار کې له سترګو پناه شوه.

خلک لاړل خو مېترا یوازې د ساحل پر غاړه ولاړه وه او په زړه کې یې د ده دا خبره رایاد کړه:
« یوه لنډه شیبه، د باد پر وزرونو له یوې شېبې تمېدو وروسته به د یوې بلې ښځې په رحم کې پېدا شم.»

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ